د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# پښتو لهجوي قاموس

اووم ټوک

بدخشان، دایکندي، سرپل، غور

کال: ۱۳۹۹ ل

د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د بشري علومو معاونیت

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# پښتو لهجوي قاموس

## اووم ټوک

(بادغیس، دایکندي، سرپل، غور)

کال: ۱۳۹۹ل

بسم الله الرحمن الرحیم

# پښتو لهجوي قاموس (اووم ټوک)

## راټولوونکي:


۱- څېړنوال محمد اصف احمدزی/ بادغیس ولایت

۲- څېړنوال دکتور عبدالاحد منګل/ بادغیس ولایت

۳- څېړنیار محمد اسحاق مومند/ دایکندي ولایت

۴- څېړنیار شریف الله دوست/ دایکندي ولایت

۵- څېړندوی مطیع الله ساحل/ سرپل ولایت

٦- څېړنیار فضل الرحمن علیزی/ سرپل ولایت

۷- څېړنیار محمد اسحاق مومند/ غور ولایت

**مهتمم: څېړنیار محمد اسحاق مومند**

**ایډېټور: څېړنوال سید نظیم سیدي**

**خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو ریاست، د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت**

**د چاپ کال: ۱۳۹۹ل / ۲۰۲۰ز**

**د چاپ شمېر: ۹۰۰ ټوکه**

**کمپوز او ډیزاین: اکمل بها**

**د چاپ ځای: زکریا محمد گرافیکس**

**د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي**

# یو څو خبرې

د تېرو شپږو ټوکونو په سریزو کې د قاموس د پېژندنې، رامنځته کېدنې، څو ژبیز کېدنې او دې ته ورته مسایلو په اړه په تفصیل سره خبرې وشوې او دا موضوع هم په کې روښانه شوه چې د یوې ژبې لپاره قاموس څومره ارزښت لري.

دغه راز د لهجوي قاموس په ارزښت او اهمیت هم په زړه پورې بحث و شو او دا په کې په ډاګه شوه، څومره چې یوه ژبه ګڼ ګړدودونه ولري په هماغه کچ د ژبې ارزښت او مبرمیت هم زیات وي؛ په دې معنا ژبه له ټولنې سره نه شلېدونکې اړیکې لري او دغه اړیکې دې ته زمینه سازي کوي چې د وخت په تېرېدلو سره د ژبې په لهجو کې هم بدلون راشي، هره قبیله د ګڼو لاملونو ترڅنګ د جغرافیوي او قبیلوي وېش له مخې ځانته لهجه غوره کوي او پالي یې، خو دا خبره هم د هېرېدلو نه ده چې فرهنګي پرمختګونه او ولسي  راشې درشې هم د لهجو په بدلون کې بې اغېزې نه دي، نو چې د ګڼو لاملونو ترڅنګ په قبیلو کې لهجوي توپیرونه زیات شي، ولسونه اړ شي چې د لیک او لوست ژبه یوه کړي او له دغو ټولو خوړلنیو څخه داسې ځانګړي خواړه جوړ کړي چې هم خوندور وي او هم ټولو ته د منلو وړ وي، پرته له شکه په داسې حالاتو کې د هرې قبیلې سره او غوره مسایل غوره کېږي، چې همدغه غوره والی یې بیا په یوه ژبه کې خپل خوړلني له ورایه خوروي او د عامې ګټنې وړ ګرځي، نو که د ګړدودونو ګڼوالی او را ټولول یې له یوې خوا یوه ژبه غني او پراخوي په ورته وخت کې ژبې ته ډېر لغوي مواد هم په واک کې ورکوي چې دغه تجربه تر ننه پورې بریالۍ وه او ده.

د ژبپوهانو په وینا د لهجو راټولول او له هغې څخه د معیاري ژبې لپاره غوراوی که له یوې خوا په لیکنه کې د خپلسرۍ مخه نیسي، نو په ورته وخت کې د ژبې د غنا او د لهجو د خوندیتابه په برخه کې هم رغنده رول لري، په دې معنا ځینې هغه لهجوي توکي چې په ژبه کې لږ کارېږي او د ژبپوهانو له خوا ورته کومه ځانګړې پاملرنه نه کېږي او خپل طبیعي حالت ته پرېښودل کېږي، پرته له شکه په ډېر لږ وخت کې هېرېږي، په همدې پار یې ژبپوهان د راټولولو ټینګار او سپارښتنه کوي او وایي چې د هرې ژبې د تاریخي اهمیت او هویت د پایښت لپاره  باید لهجوي مواد راټول او خون دي شي، ځکه د دغو موادو خوندیتوب د ژبې په اړه ځانګوالو او پوهانو ته داسې

مواد په واک کې ورکوي چې هم ژبه د جعلیت له جغه باسي او هم یې د تاریخي قدامت په اړه داسې شواهد وړاندې کېږي چې د نړۍ ټولې بې بنسټه ګوتڅنډنې شنډېولای شي.

دا چې د لهجو د راټولولو چار د نړۍ اکثر معتبرې ژبې کوي او کړی یې دی، نو پښتو هم چې د ګرامر له پلوه یوه ځانساتې او محافظه کاره ژبه ده، د خپلو ګڼو لهجو را ټولولو او خوندي کولو ته اړتیا لري چې باید را ټول شي، خو دا چې دغه کار د انفرادي کسانو له وسې وتلې خبره ده، په کار ده چې علمي او اکاډمیکې موسسې دغه چار ته لبیک ووایي، چې له نېکه مرغه له نن نه کابو نهه کاله وړاندې د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبیاتو مرکز د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت دغه درانه پېټې ته اوږه ورکړه او له ښه مرغه شپږ ټوکه یې ستاسې په مخ کې کېښودل چې دا دی دا ځل د اووم او اتم ټوک شاهدان هم یو، چې په دغو دوو وروستیو ټوکونو سره یې لومړۍ لړۍ کابو بشپړېږي.

کابو مې ځکه وویل چې د ګړدود پوهنې د آرونو له مخې د هرې ژبې ګړدودونه باید له دوو لارو څخه را ټول شي، یو د جغرافیوي وېش له مخې او دویم هم د قومي یا قبیلوي وېش له مخې، چې د نړۍ د اکثرو هېوادونو د ژبو د لهجو په راټولولو کې دغه چار بریالی دی، خو په ډېرو ژبو کې بیا دغه چار لکه څنګه چې باید وي هغسې نه دی او که ووایو چې ناکام دی، نو ډېره ستغه خبره به مو نه وي کړې.

له بده مرغه دغه دوه اصله د پښتو ژبې د ګړدودونو په راټولولو کې هم بریالي نه دي او چندانې ښه تجربه هم نشي زباتېدلای، په دې معنا که په ټوله کې د پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار د وېش له مخې چې پښتو ژبه یې په ټوله کې پر څلورو لویو ګړدودونو وېشلې او یا هم ځینو نورو پوهانو چې په درېو سترو ګړدودونو وېشلې، طرحه په نظر کې ونیسو، نو بیا یو څه مسئلې ته نږدې کېږو، خو که کله دغه وېش له څانګوالو پرته عامو خلکو او لوستونکو ته وړاندې کوو، نو ډېر ځله خپل لوستونکي له ستونزو سره مخامخوو، ځکه هغوی چې کله د ساري په توګه د مومند د سترې قبیلې جغرافیوي مېشتېدنې ته متوجه کېږي او ګوري چې د پښتونخوا مومند یو ډول، د ننګرهار مومند بل ډول، د شمالي او شمال شرقي ولایتونو مومند بل ډول او د لوی کندهار مومند بل ډول لهجه کاروي، نو بیا دا مسئله ورته سر په سر پوښتنې پیدا کوي او هغه عمومي وېش چې زموږ ښاغلو ژبپوهانو کړی، د دوی پوښتنې په عامه توګه نه شي ځوابولای، نو ځکه د لهجو په را ټولولو کې دغه لار تر ډېره چندانې بریالۍ نه وه او په همدې خاطر زموږ محترمو استادانو ولایت په ولایت او کلي په کلي ګرځېدلو او له هر ولایت څخه د شپږو لویو قبیلو د لهجو راټولولو ته زړه ښه کړ او د اوس لپاره په همدغه روش بسنده شول چې دغه ګام یا لړۍ ته مو د لومړي دور نوم ورکړ او د اتم ټوک په بشپړولو سره مو دغه دور نسبتاً بشپړ شو، نسبتاً ځکه وایو چې

دقیقاً د هر ولایت په سر دغه شپږ قبیلې د افغانستان د ټولو مېشتو پښتني قبیلو استازي نه شي کولای او نه هم په دې را خلاصه کېدلای شي، ځکه افغانستان د ګڼ ژبو ولسونو ترڅنګ ګڼ ګړدودي قومونه او قبیلې هم لري چې د ټولو راټولول او خوندي کول یې په میاشتو او کلونو وخت ته اړتیا لري، چې د امنیت په چاپېریال کې په منظمه توګه پرته له کومې وېرې باید را ټول او مینه والو ته وړاندې شي، خو که امنیت نه وي او یا هم کومه بله ستونزه وي، بې له شکه کار به خپلې ستونزې او نیمګړتیاوې ولري، چې پرته له شکه زموږ کار هم خپلې ستونزې او نیمګړتیاوې لري او دلایل یې هم جوت دي چې لاندې یې یادونه کېږي، خو د دې معنا دا نه ده چې همداسې به مخکې ځو او خپلې نیمګړتیاوې به نه بشپړو، موږ تل هڅه کړې او بیا هم په همدې هڅه کې یو چې که په دویم دور کې د هېواد حالات او امنیت خدای ښه کړل او له دغه زړه چاودن څخه چې په لومړي دور کې مو ولید لږ سهولت کې شو، کار لږ نور هم منظم او نوی کړو او تر وسې وسې د پاتې درنو او معززو پښتني قبیلو لهجې هم را ټولې او په یوه نوې بڼه یې خوندي کړو، خو دا هم د هېرولو نه ده چې زموږ د لومړي دور کار له امنیتي ستونزو او ګواښونو واخله تر ټولنیزو، دودیزو، مادي او علمي ستونزو پورې له ټولو سره لاس او ګرېوان وو او دغه چار کله ناکله زموږ د کار ارزښت هم کم رنګه او آن له ننګونو سره مخامخ کړی دی، خو هغه چې وایې تور توتان له تاسې قربان، دا څه مو چې په وس پوره وو او د حالاتو له ټولو کړلېچونو او ګردونو مو را ټول کړي دا دی له تاسې سره شریک شول، هیله ده چې دغه لږ څه په ډېر څه را سره ومنئ.

البته د شوي کار په اړه د ځینو خبرو یادول اړین دي چې له ګرانو لوستونکو سره باید شریک شي، په دې معنا موږ د لهجوي قاموس لومړي دوه ټوکه چاپ کړي وو، چې یوې ستونزې ته متوجه شو او هغه د (ښ- ṣ) اواز د (خ- ṣ̌) او (ش- š) په شکل تلفظ و، چې استادانو په کې ستونزه نه لرله، خو په ګانده کې د دغې برخې عام لوستونکي او بهرني مینه وال او څېړونکي ورسره مخامخېږي، همداسې د (ږ- ẓ ) اواز تلفظ هم و چې د (ګ - ẓ̌ ) او (ژ- ž ) په بڼه تلفظ کېږي.

د دې لپاره چې دا موضوع په علمي توګه حل شوې وي، نو لومړی درې واړه وینګونه د سیمو د خلکو د وینګ په پام کې نیولو سره تشخیص او بیا د افغانستان د علومو اکاډمي د سلاکار پوهاند ډاکټر مجاور احمد زیار، د لرغونو ژبو د څانګوال څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ او نورو څانګوالو استادانو له خوا د فونیمیکي اوازونو د آرونو په رڼا کې د نړیوالو پرنیسپونو په پام کې نیولو سره ورته د حل لاره پیدا او ټولو ته د منلو وړ شوه، خو لکه څنګه چې جوته ده علمي کارونه هله خپلې پخته ګی ته رسېږي چې ډېرې نیوکې پرې وشي او هره نیوکه د قانون، علمي او څېړنیزو آرونو او پرنسیپونو په رڼا کې ځواب شي، زموږ دغه کار هم له نیوکو څخه پاتې نه شو او تر

اوسه پورې پرې نیوکې روانې دي، خو یوه نیوکه چې لا تر اوسه هم خوله په خوله کېږي هغه دا ده چې دغه قاموس د ځانګوالو ترڅنګ عامو لوستونکو ته څومره د استفادې وړ دی؟

ګیلې او پوښتنې مو په لېمو، همدا ستاسو د پوښتنو برکت دی چې زموږ کار ورځ تر بلې که د الله رضا وه بشپړېږي، خو موږ هم یوه ګیله لرو او هغه دا، آیا چا تر اوسه زموږ د زړه مراندې را سپړلي او دومره پوښتنه یې کړې چې د دغه درانه کار په ترسره کولو کې له تاسې سره حکومتي چارواکو څومره مرسته کړې، ایا ستاسې خپله اداره څومره همکاره پاتې شوې، ایا امنیت درته نیول شوی او که نه، ایا کوم استادان مو چې د غلو له خوا وهل شوي، ورسره موجود مواد یې تروړل شوي، په روغتون کې بستر شوي تر نن ورځې پورې یې کوم چا پوښتنه کړې او که نه؟

ایا استادان چې هر ځل ساحې ته تللي څومره مرګوني حالات چې پرې تېر شوي په کراتو مراتو د حکومت د وسله والو مخالفینو له لوري درول شوي، توهین شوي او د مرګ ګواښونه ورته شوي تر ننه یې چا پوښتنه کړې، ایا تر اوسه پورې له دغو ښاغلو استادانو څخه چا یوه وچه مننه هم کړې او که نه؟ او که دوی یوازې او یوازې د نیوکو مستحق دي چې ټول عمر یې باید ونغوږي، پر کار یې سره کرښه را کاږل شي او ځواب ویلو ته هم پرېښودل شي؟!

که چېرې د پوښتنو په لړۍ کې دا پوښتنې هم زیاتوئ چې په نشت امکاناتو شوی کار باید له علمي موازینو سره څو سلنه برابر وي او څنګه باید برابر شي؟

نو دغو پوښتنو تر ډېره زموږ درانه ښاغلي څېړونکي او استادان خوابدي کړي، خو له دې ټولو ناخوالو او خپګانونو سره سره بیا هم د وړاندې تګ نیت لري او تل یې پر ځان ویسا ساتلې ده.

په هر حال، دا سپیناوی زموږ د کار ستونزې، نیمګړتیاوې او تشې نه شي ډکولای او نه هم د ځینو لهجو حق ادا کولای شي، خو ځان په دې ډاډه کوو چې په جنګي حالاتو کې مو د یو داسې درانه کار بنسټ کېښود چې ډېرو ته د نه منلو او ناشونی برېښېده، موږ د الله په فضل او رحم سره د دغه چار بنسټ کېښود، دومره مو وکړ او که د الله رضا وه لا به یې پراخوو، ستونزې، تشې او نیمګړتیاوې به یې بشپړو او د پخته ګی خوا ته به یې بیایو.

ښایي د دغو ټولو خبرو تر اورېدلو وروسته یوه بله پوښتنه هم پیدا شي او هغه دا ولې تر شپږم ټوکه پورې لغات یو ډول وو او په اووم او اتم ټوک کې په ځینو کې بدلون راغی او ډېر لغات یا بدل او یا سوچه نوي شول؟

نو لکه مخکې چې هم یادونه وشوه د دغه کار له پیله ځینې ستونزې وې چې زموږ علمي کار یې له ننګونو سره مخامخ کړی و. په کار خو دا وه چې د قاموس لغات مو ټول چاڼ کړی وای او داسې لغات مو غوره کړی وای، چې په کافي اندازه یې اختلافي موارد لرلی، خو لکه څنګه چې پوهېږئ هغسې کار کافي وخت، ښه امنیت او... ته اړتیا لرله او تر څنګ یې هغه وخت موجوده ځوانان په رهبرۍ کې هم نه وو، نو ځکه یوازې یې خپل نظر څرګندولای شو او بس، تصمیم نیونکې مرجع بل څوک وه.

په همدې خاطر تر لومړیو دوو درېو ټوکونو وروسته تر اوسه پورې کابو په هر ټوک کې له سره بیا کتنه شوې او ځینې لغات چې ډېر اختلافي موارد یې نه لرل، هغه لرې او پر ځای یې نور نوي لغات ځای پر ځای شوي، خو دا چې په اووم او اتم ټوک کې د اکاډمۍ په رهبرۍ کې هم پوره بدلون راغی او د رهبرۍ ترڅنګ موږ (د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت ځوان غړي) هم د ډېرو لغاتو د بدلون پلویان وو، نو تر وسې وسې مو په کې بیا هم بدلون راوست او ډېر نوي لغات مو په کې زیات کړل، خو هېره دې نه وي دا چې دا لړۍ له پخوا نه په همدغه بڼه پیل شوې وه، نو نه مو شول کولای چې په ټوله معنا یې بدله کړو، نو ځکه یې ارزښت ساتل هم اړین دي.

البته د دغه کار په اوږدو کې کله ناکله د ټولو علمي ننګونو او ناخوالو ترڅنګ اداري ستونزې هم راته دومره پېرسول شوي چې ډېر ځله یې زموږ کاري ډله د دغه چار له ترسره کولو پښېمانه کړې ده، خو دا چې په کړي کار لږو ډېر یې تسکین شوی، نو بېرته یې په ټولو ناخوالو او زړه بداویو سترګې پټې او بیا یې اوږه ورکړې او بیا هم ژمنه کوو که الله پاک په دې هېواد کې سوله او امنیت ټینګ کړل، نو د دغه قاموس دویم دور به له نوي بدلون، نوې بڼې او نوې فرضیې او میتود سره وړاندې شي، خو دا خبره هم د هېرولو نه ده چې په دغه ترسره شوي کار سره موږ خپل درانه پوهان، څېړونکي، محصلین او مینه وال د دغه کار ارزښت ته متوجه او بنسټ مو ورته کېښود، تمه ده چې دوی یې لا پسې پراخ او هر اړخیز کړي. د سوکاله، اباد او سرلوړي افغانستان په هیله.

**په درنښت**

**د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت**